`

**د اروپايي ټولنې د ټاکنو د څارنې ماموريت**
د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
د ولسمشرۍ **او ولايتي شوراګانو ټاکنې، ۲۰۰۹**

---

## لومړنۍ څرګندونې

## د افغانستان ټاکنې په يوه مناسبه بڼه تنظيم شوي ډول،

## د تاوتريخوالي او تهديد له شتون سربيره ترسره شوې

**کابل، د ۲۰۰۹ د اګست ۲۲**

د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت او د ټاکنو د خپلواک کميسيون لخوا د يوې بلنې په بنست د ۲۰۰۹ کال د ولسمشرۍ او ولايتي شوراګانو د ټاکنو د څارلو لپاره د اروپايي ټولنې د ټاکنو د څارنې ماموريت په ۲ جولای په افغانستان کی تاسيس شو. دا ماموريت د **جنرال فليپ موغيون**، سرڅارونکی او د اروپايي پارلمان پخوانی غړي، لخوا رهبري کيږي. د اروپايي ټولنې د ټاکنو د څارنې ماموريت ۱۲۰ شنونکي او څارونکي له ۲۲ اروپايي ټولنې غړو هيوادو همدارنګه د ناروې، سوټزرلېنډ، او کاناډا هېوادونو څخه په دنده وګمارل. څارونکي د هېواد په کچه وګمارل شول تر څو د ټاکنو بهير د ټاکنې د نړيوالو معيارونو او افغان ملي قانون سره سم وڅاري او وارزوي.

د اروپايي ټولنې د ټاکنو د څارنې ماموريت له ټاکنو مخکې فعاليتونو، او همدارنګه په ۲۸ ولاياتو کې د رای اچونې اجرااتو څخه ليدنه وکړه. دا ماموريت اوس د رايو د شميرنې پايلې او پايلو جدول بندی څاري او دا ماموريت به په هېوادا کې تر هغې پاتې کيږي چې د ټاکنو وروسته پرمختګونه وڅاري. دا څرګندونه لومړنۍ ده، يو قطعي رپوټ به د ټاکنود ورځې څخه تقريباً دوه مياشتې وروسته خپور شي. د اروپايي ټولنې د ټاکنو د څارنې ماموريت په خپلو موندنو او پايلو کې خپلواک دی او د ملګرو ملتونود ۲۰۰۵ کال د اکتوبرمياشتی د نړيوالو ټاکنو د څارنې د اصولو اعلاميې ته وفادار دی.

---

## لومړنۍ پايلې

- په افغانستان کې د ۲۰۰۹ کال د اګست ۲۰ د ولمسشرۍ او ولايتي شوراګانو ټاکنې د لسيزو راهيسي لومړنۍ ټاکنې وی چې افغانانو لخوا رهبری شوې. اوسنيو کلونو کې افغانستان د امنيتي وضعيت د لاخرابيدو په حالت کې په نښه شوی دی او د افغانی چاروکو په خاصه توګه د ټاکنو د خپلواک کميسيون د بنو هڅو سربيره، د دې ټاکنو ترسره کول په ناچاره ډول اغيزمن شول. د طالبانو لخوا د ټاکنو سره د بايکاټ اعلان زياتېدونکو حملو سره مل و، چې ډېرو عامو وګړو د ټپيکدو او مړينی سبب شو. دا ټاکنی تر سره شوی په خپله د يادونې وړ يوه لاسته راوړنه ده.
- د ټاکنو ورځ د يو لړ ناوړو پيښو له امله زيانمنه شوه چې په کی راکټي بريدونه او چاودنې وی چې هدف يې په هېواد کې د راي اچونی مرکزونه او دولتي اداري وی. د دې ګڼشمير خېډونو برسيره، افغانان را ووتل او خپلی رايی يي واچولی. د معتبروسرچينو او رپوټونو پر بنسټ، د خلکو د ګډون کچه د هيواد په شمال کی ډيره لوړه و او په سهيل کې په ځانګړې توګه ټيټه وه.

- د راي اچونی عملیاتونه په قناعتبخش ډول پرته له کوم کمښت څخه د ټاکنو په توکو کی اداره شول. د کاندیدانو ګن شمیراستازی حاضر وو.

- قانوني کارچوکاټ د ټاکنو د سرته کولو لپاره یو مناسب بنسټ برابروي. اساسي قانون د اړوندو مدني او سیاسي بشري حقوقو همدارنګه د بنسټیزو ازاد یو ضمانت کوي، او په عمومي توګه له هغو نړیوالو ا سبابو سره سم دی چې د افغانستان اسلامي جمهوریت لخوا تصویب شوي وو. که څه هم قانونی اوتنظیمی کارچوکاټ په ځینو نیمګړتیاوو سره په نښه شوی و، د مثال په ډول د نوماندانو دتیریدنی ناوخته پریکړه، چه مکمل او په موقع معلومات یې رای ورکونکو ته برابر نه کړای شول.

- په بشپړ توګه، د ټاکنو خپلواک کمیسیون ، سربیره د بېخبېناوي او امنیتي ننګونو لکه د کارکوونکو پر ضد ګواښون ه او بریدونه، په اغېزمنه توګه فعالیت وکړ او تخنیکي ترتیبات د مناسبو مهالوېشونو په اساس جوړ وو. که څه هم ، د ګمارلو تګلارې، په شمول د ولسمشر لخوا د کمشنرانو ټاکل، د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د خپلواکی (استقلالیت) پوهاوی سره مرسته ونه کړه او له ځینو ولایاتو داسي رپوټونه هم رارسېدلي چې په ځینو ولایاتو کي د دې کمیسیون پر کارکوونکو فشار راوړل شوی چي دا د کمیسیون ناپیلیتوب (بیطرفی) تر پوښتني لاندې راولي.

- دا ټاکني پرته له یو واحد او دقیق رای ورکونکو نوم لیکنی څخه تر سره شوی. هغه لېست چې د راي ورکوونکو د نوی نوم لیکنی له مخی ترتیب شوی دی، په پراخه توګه د یو دقیق لست په توګه کتل شوی ندی. د مثال په ډول په ظاهر کی د ښځو نوم لیکنی نا درسته کچه. د راي ورکوونکو نوی نوم لیکنه د تېرو ټاکنو د راي ورکونکو نوم لیکنې سره چی تقریباً ۱۲.۵ ملیونه رای وکونکی یی ثبت کړي، مېچ نه کاوه. د راي ورکوونکو د نوی نوم لیکنی نه وروسته نوی کارتونه وویشل شول او پخوانی کارتونه د چلند وړ وګڼل شول. په پایله کي، په هېواد کي تقریباً ۱۷ میلونه کارتونه وو.

- د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون ۵۷ نوماندان له دی ټاکنو څخه وویستل، چي په ډېرو حالاتو کي یي علت د دوی تړاو د غیرقانوني وسلوالو ډلو سره وو. دپلټنی بهیر د لنډ مهالوېش، د سیاسي هوډ نشتون او په ځینې حالاتو کي د سیاسي مداخلې له امله اغېزمن شو. له بلی خوا، د وسلو ټولو او ملکی کولو کمیسون ځینی زړه وری پریکړی یی د نوماندانو د ایستلو په اړوند وکړی.

- د ولسمشریزو ټاکنو لپاره کمپاینو د هېواد په کچه یوه رښتیني مناظره د ټولنیز-اقتصادي او سیاسي ستونزو په اړه وځلوله. د ځینو بریدونوسربیره، نوماندان په دې وتوانېدل چي د هېواد په ډېرو برخو کي کمپاین وکړي. لیکن د ولایتي شوراګانو نوماندانې د ګرځېدواو جرګو د نیولو د یو لړجدي محدودیتونو سره مخامخ شول، چي ډیری یی د ګواښونو، خطرونو او پر نوماندانو، د ټاکنو اداری کارکونکو او حتی رای ورکونکو باندی مستقیمو بریدونو له امله وو، چي په پایله کی دا د ډېرو د مرګ باعث وګرځېدل.

- د ټاکنو د رسنیو د کمیسیون د مقرراتو پر خلاف، چې باید د ټاکنو کمپاین مناسب او متوازن پوښښ موجود وی، هغه رسنۍ چه د اروپايي ټولني د څارني د ماموریت لخوا څارل شوي دی دا څرګندوی چي ډېر زیات پوښښ یوازی څلورو مطرح نوماندانو لپاره او ډېر کم پوښښ د ولسمشری په سیالی کی نورو سیالانو ته ورکړل شوی و. د دولتي رسنیو خبری رپوټونه، هم د کمیت او کیفیت په لحاظ واضحه تمایل د ولسمشر کرزی په ګټه څرګندو ي. د یو مثبت پر مختګ په عنوان، خصوصی رسنیو سیاسی مناظرې او د ګردی میزونو بحثونه نشر ته وسپارل چه ډېر یی د رسنیو د کمیسون له خوا تنظیم شوی و. د ګردی میزونو هغه کم مطرح نوماندانو ته دا فرصت مساعد کړ تر څو خپلی کړنلاری رای ورکونکو (خلکو) ته وړاندی کړی.

- د تېرو ټاکنو د سپارښتنو سربېره، د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون د پروسي په بهیر کي وروسته تاسیس شو. لیکن د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون ښکاره پرېکړې له څرګند ناپیلیتوب سره وکړې چې په نتیجه کي یی خپلې تنظیمی او عملیاتي کارچوکاټ پیاوړی کړ څو د شکایتونو په هکله پلټنی وکړي.

- د ښځو مدني او سياسي حقوق د افغان استوګنځو په حيث د هېواد په اساسي قانون کې درانه شمېرل شوي خو په عمل کې د دوی ګډون د نوماند په صفت، راي ورکوونکي او د ټاکنو د اداره کوونکي په صفت ډېر زيات محدود و. د ضعيف امنيت نامناسب اغېز، په عامه ژوند کې د ښځو پر وړاندې کلتوري مخالفت او يو شمېر بريديونه په څرګند ډول د ښځو پر فعاليتونو باندی، د ټولو د ښځو لپاره مهم خنډونه را منځ ته کړل.

- مدني ټولنې په افغانستان کې د ډيموکراتيک بهير په رښتنې کې مرسته کړې او د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو بنياد (فيفا) د ټاکنو ټول پراوونه څارلي او رپوټ يې ورکړی. د ملګرو ملتونو په همکاری، د افغان ستان د بشر د حقوقو خپلواک کميسيون د ټاکنو په بهير کې د مدني او سياسي حقوقو د احترام او سرغړوونو په باب اسناد چاپ کړي، چې ځينې د اندېښنې وړ موضوعګانې په ګوته کوي.

## لومړنی لاسته راوړنې

**شاليد**

د ۲۰۰۹ کال ۲۰ اګست ولسمشريزو او ولايتي شوراګانو ټاکنې د لسيزو را پدی خوا لومړنۍ ټاکنې دي چې د افغانانو لخوا رهبري کېږي. دا ټاکنې د ټاکنو د خپلواک کميسيون (ټ. خ. ک) لخوا اداره شوې. د لومړي ځل لپاره په هېواد کې ولسمشريزو او ولايتي شوراګانو ډيموکراتيکې ټاکنې په کال ۲۰۰۴ او ۲۰۰۵ د افغانانو او ملګرو ملتونو په ګډو هڅوترسره شوی او ميشته افغانانو ته يې دا توان ورکړ چې خپلې ژمنې له ډېموکراتيک بهير سره څرګندې کړي. له وخت راهيسې، د فرصتونو په له لاسه ورکولو، چې بايد کيليدي اداری بياپياوړي کړی وای او د قانون د ښلې کولو ته يې قوت ورکړی وای، تر يو ځايه د مجازاتو په معافيت کی اودنا امنيو په رامنځته کولو کې مرسته وکړه، چې دې د خلکو باور د ډيموکراتيک حکومت پراغېزمنتيا زيانمن کړ.

اوسنيو کلونو کې افغانستان د امنيتي وضع د لاخرابيدو په حال کی ليدل شوی ده ا و د ډېرو نيدخلو ارګانونو د ښو هڅو سربيره د دې ټاکنو تدوير په ناچاره توګه اغېزمن شوی. پر خلکو د طالبانو غبر چې له ټاکنو سره بايکاټ وکړي د موازی هڅو سره چې د ټاکنو بهير اخلال کړی مل شو. دا چې د راي اچونی ورځ راورسيده د بريدونه شمير زيات شو چ ې په پايله کی ملکي وګړو ته مرګ ژوبله واووښته. خلک د ډېرو ګوابنونو سره مخ وو او د ټاکنو د ورځی څخه وړاندې په هغه ځايونو چې د ټاکنو د مرکزونو په توګه په پام کی نيول شوی بېلابېل بريدونه تر سره شول. سربېره پر دې، د هېواد په بېلابېلي برخی د تشنج نه ډکې وی ځکه چې هلته د افغانستان لپاره نړيوالو امنيتي مرستندوی ځواکونو (ايساف) او ملي ځواکونو پوځی عمليات ترسره کيدل.

د ټاکنو ورځ د يو لړ ناوړو پيښنو له امله زيانمنه شوه چې په کی راکټي بريدونه او چاودنې وی چې هدف يې په هېواد کې د راي اچونی مرکزونه او دولتي اداري وي. د دې ګڼشمير ځړونو برسيره، افغانان را ووتل او خپلې رايی يې واچولی. د معتبروسرچينو او رپوټونو په بنسټ، د خلکو د ګډون کچه د هيواد په شمال کی ډيره لوړه و او په سهيل کې په ځانګړې توګه ټيټه وه.

## قانوني کارچوکاټ

د ۲۰۰۹ د ولسمشرۍ او ولايتي شوراګانو ټاکنې د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون او يو لړ مقررو او فرمانونو په شمول د ۲۰۰۵ د ټاکنو قانون او ۲۰۰۳ کال د سياسي ډلو د قانون په اساس ترسره شول. دا قوانين له هغو مقررو او پرېکړو سره ضميمه دي چې د ټاکنو د خپلواک کميسيون لخوا صادر شوي دي. قانوني او تنظيمي کارچوکاټ د ۲۰۰۹ کال د مي مياشتې، کې د ولسمشر لخوا په ټاکنيزو چارو کې د نه مداخلې فرمان، او د ټاکنو شکايتونو د کميسيون د اصولو او مقررو څخه په اقتباس تر يوه حده اصلاح شو. اساسي قانون د مدني او سياسي حقوقو ضمانت کوي، په همدې توګه د اساسي آزاديو او په عمومي توګه دا قانون د هغو نړيوالو اسنادو سره سرخوري چې د افغانستان[1] د اسلامي جمهوري دولت لخوا تصويب شوي او ځينې نور قوانين د دې حقوقو په پلې کولو کې مرسته کوي.[2] په ټوليزه توګه قانوني کارچوکاټ د نړيوالو معيارونو سره سم د ډيموکراتيو ټاکنو تدوير لپاره يو مدلل بنسټ برابروي. د ټاکنو د خپلواک کميسيون دا ټاکنې ځنډونې پريکړه د خپل مهالوېش څخه چې په اساسي قانون کې ټاکل شوی وو، يو ښه پريکړه وه اودهغو ښو کړنلارو سره چې وګړو ته د رای اچونې[3] د حق بهتره زمينه جوړوی، برابره وه.

قانوني کارچوکاټ به ضرور ځينې نيمګړتياوې لري، چې په کې د ټاکنو د خپلواک کميسيون د کمېشنرانو ټاکل شامل دی. که چيری د ټاکنو د خپلواک کميسيون په اړه هغه قانونی طرح چې پارلمان ته وړاندی شوی ده اعلام شوی وای نو د ټاکنو د بهيرپه شفافيت کی به يی ډيره مرسته کړی وای.[4] د قانونی کارچوکاټ د وضاحت په اړه د پريکړو نۀ شتون او د قانونی او تنظيمی مقرراتو تر منځ اختلافات لکه د چلند وړ راپيانې تعريف د ځينو نوری نيمګړتياوی له جملی څخه دی. د ټاکنو د قانون د ۳۷ (۲) مادې، چې د ټاکل شوی مودی څخه وروسته د نوماندانوتيرودلو ته صلاحيت ورکوی، د ټاکنو د خپلواک کميسيون ناوخته تفسير يو له هغو تناقضاتو له جملی څخه دی او پدی خاطر چی بشپړ او په وخت معلومات رايه ورکوونکو ته برابر نۀ شول، په نتيجه کې د نړيوالو معيارونو په عملي کولو کې نيمګړتيا راغله.[5] په وروستنی ډول، که څه هم د ټاکنو خپلواک کميسون تنظيم چی بايد رای شميرنی د رای اچونی په مرکزونو کی وشی د ښو منل شوو تګلارو له جمله څخه دي خوځينی تشويشونه پدی اړوند شته په ځانګړی توګه په ځينو کوچنيو او لری پراتو ټولنو کی دا ميتود کولای شی د رای خونديتوب د خطر سره مخامخ کړی.

د ولسمشرۍ ټاکنو لپاره د اکثريت دوه نوبته سيستم څخه کار اخيستل کيږی، حال دا چې د ولايتي شورا ګانو ټاکنې په ۳۴ واحد ولايتی حوزو کی د يوی نالنتقالي رايي (SNTV) ټاکنيزسيستم کاروي. په دې توګه، ټول نوماندان کولای شی ځان د يو وګړی او يا په يوه سياسی ډلی کی ثبت کړی. له سياسي ډلو ځينې مقرراتو برسيره ، د يوی نالنتقالی راي (SNTV) د سياسي ډلو د پرمختګ لپاره فرصتونه او موجبات محدودوي. د ټاکنو قانون د ښځو لپاره کم ترکمه د ولايتي شوراګانو د چوکيو څلورمه برخه تضمينوی.

## د ټاکنو اداره

د ۲۰۰۹ کال ولسمشريزو او ولايتي شوراګانو ټاکنې د اساسي قانون د ۱۵۶ مادې په اساس د ټاکنو د خپلواک کميسيون (ټ.خ.ک) لخوا ادراه شوی. د ملګرو ملتونو د امنيت د شورا د ۱۸۰۶ (۲۰۰۸) پرېکړې له مخې او د يوناما تر څارنې لاندې، د ملګرو ملتونو د پراختيايي پروګرام (UNDP) د ELECT پروژې د نړيوالو مرستو مشرۍ د ټاکنو خپلواک کميسيون په غاړه درلوده چې د تخنيکي مرستو او د ظرفيتونو د لوړولو نوښتونو په ذريعه وړاندی کيدل.

[1] دا شاملېږي پر مدني او سياسي حقوقو نړيوال تړون ته، د هر ډول نژادي توپير د لرې کولو نړيوال تړون او د ښځو پر وړاندې د هر ډول توپير د لرې کولو تړون.
[2] نورې قانون جوړونې عبارت دي له : د جرګو قانون، وهلو، او لاريونونه چې د ولسمشر د ۲۰۰۳ جنورې د فرمان په اساس منل شوي، او د پوليس قانون چې د سپټمبر په ۲۲، ۲۰۰۵ کې خپور شوی، چې دواړه په ګډه د جرګو او ناستو ازادي له ډيموکراتيکو معيارونو سره ښيي.
[3] د اساسي قانون ۶۱ ماده تصريح کوي چې د ولسمشرۍ ټاکنې دې هر ۵ کلو کې يو وار دايرې شي۳۰ تر ۶۰ ورځې مخکې د ولسمشرۍ دورې د پای ته رسېدو څخه وړاندې، چې دا د جوزا لومړۍ (د ۲۰۰۹ د جون ۲۲ مه) نېټه وه، حال دا چې د ټاکنو خپلواک کميسيون ځيني فکتورونو ته په کتو لکه د امنيت وضع، د اپرېل او مي مياشتو په دوران کې غرنيو سيمو محدود لاسرسی، چې موسم يخ وي او ټاکنو عملياتو د سرته رسولو لپاره يو محدود مهال چوکاټ.
[4] د ټاکنو د خپلواک کميسيون د جوړښت، دندو او باصلاحيته کارکوونکو په اړوند قانوني مسوده دا تشريح کوي چې کمشنران دې د ټاکنو د خپلواک کميسيون لخوا برابر او د ولسي جرګې لخوا دې تصويب شي. دا وېشنه د يو شمېر رپوټونو په ترڅ کې ستري محکمې دا له اساسي قانون سره په ټکر کې اعلام کړی.
[5] د ټاکنو خپلواک کميسيون خپله پرېکړه په ۳ اګست ۲۰۰۹ نېټه د يو مطبوعاتي وينا په ترڅ کې د ۲۰۰۹-۴۶ شمېرې سره په ۳۰ جولای د ۲۰۰۹ صادره کړه.

د ټاکنو خپلواک کمیسیون، د هغې ویرې چې د کمیسون په کارکونکو باندی وضع شوی وه، د لویو امنیتی فشارونو لاندی کار کول، د دوی ژوند ته ګواښونو، او په ځینو حالاتو کی حتی د تښتونی او په نښه شوی وژلو په نظر کی نیولو سره باید د خپلو کارونو په اړه په ځانګړې توګه وستایل شي.

په بشپړ توګه، د ټاکنو خپلواک کمیسیون، په اغېزمنه توګه فعالیت وکړ او سربېره د بېخبېناوي او امنیتي ننګونو، تخنیکي ترتیبات د مناسبو مهالوېشونو په اساس جوړ وو. د ټاکنو خپلواک کمیسیون، د هېواد په کچه د رایه اخیستنی نږدې ۱۴۰۰۰۰ کارکوونکي د ۲۶۹۸۳ رای اچونې مرکزونو لپاره وګمارل چې له دې ډلې څخه ۱۴۸۲۹ تنه د نارینه رای ورکونکو لپاره او ۱۱۰۲۹ د ښځو رای ورکونکو لپاره او ۱۷۵۶ د کوچیانو لپاره، په (۶۵۱۹)[6] رای اچونی مرکزونو کی په کار وګمارل. لاسته راغلي وروستي ارقام دا وایي چې د ټولو رایه ورکوني مرکزونو د کارکوونکو له سلنې څخه ۳۶ سلنه ښځینه کارکوونکي وې.[7]

د لومړې ځل لپاره د ځانګړو اړتیاوو راې ورکونې شرایط برابر شوي وو، چې د روغتون بېستر شوي ناروغان، نظامي کارکوونکو او بندیانو ته د راي ورکونې حق ورکوي. د اروپایي ټولنې د ټاکنو د څارنې ماموریت د دې نوښت د راې ورکونې حق د نړیوالو اصولو پر بنسټ هر کلی کوي.

له بده مرغه امنیتي خنډونو د تیاریو وروستي پړاوونه سخت اغېزمن کړل. دا تل په ډاګه وه چې په ځینو سیمو کې به د راې ورکونې مرکزونه په امن کی نه شي او په داسې کړکیچن حالاتو کې د راې ورکونې د ځایونو وروستی لېست د ټاکنو د ورځې څخه یو ورځ وړاندې ترتیب شو. حال دا چې هغه حالات چې د بدلونونو باعث ګرځیدل د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له کنټرول څخه د باندی وو، او په حقیقت کې د دې لېست پر خپل مهال نه تېارېدو د عام خلکو او نړیوالو څارونکو د پلان او طرحې توان راکم کړ. چې په پایله کې ۸۰۰ د رایې مرکزونه لغوه شول.

د ګمارلو اوسنی تګلارې، په شمول د کمشنرانو ټاکل د ولسمشر لخوا ، د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د خپلواکی (استقلالیت) پوهاوی سره مرسته ونه کړه او له ځینو ولایاتو داسې رپوټونه هم رارسېدلي چې په ځینو ولایاتو کې د دې کمیسیون پر کارکوونکو فشار راوړل شوی چې دا د کمیسیون ناپیلیتوب (بیطرفی) تر پوښتنې لاندې راولي. که څه هم د اروپایي ټولنې د ټاکنو د څارنې ماموریت مهال پر مهال د ټاکنو له خپلواک کمیسیون څخه کره مالومات ترلاسه کړي، خو په ځینې استثناوې یې هم لرلې. په ځانګړې توګه د تیاریو په وروستي پړاوونو کې، کمیسیون په سازګاره توګه هغه مالوماتو ته د لاسرس اسانتیاوې برابری نکړی چې د ټاکنو د ادارې اغېزمنده څارنو لپاره ضروری وو.

ټاکنو د خپلواک کمیسیون د هدایاتو د پایلي له امله، هغه رایه چې لغوه شوي نوماندانو ته ورکړل شي، د راې ورکونې په مرکز کې به، اعتباري ګڼل کېږي، خو د نتایجو په مرکز کې به ناچله ګڼل کېږي، چې دا به د دې مرکزونو لپاره دوه مختلفې نتیجې رامنځ ته کړي، چې دا د حسابونې د بهیرونو د تګلارو سره په ټکر کې ده.

د ټاکنو خپلواک کمیسیون کې د جندر دفتر جوړول یو مثبت اقدام و خو د دې دفتر د تشکیل غزېدل او د عامه پوهاوی د ځانګې لپاره یې له درې میاشتې وړاندې له ټاکنو څخه راکمول، د دې کمیسیون توانایي محدوده کړه چې پر وخت عملي اقدامات وکړي.

## د رای ورکوونکو نوم لیکنه

دا ټاکنې پرته له کوم واحد او دقیق رای ورکونکو د نوم لیکنی ترسره شوې. هغه نظرچې په اصل کی د یوی نوی نوم لیکنی په منظور وو پرېښودلی[8] شو. او د نوم لیکنی نوی کولو بهیر د ۲۰۰۸ کال د اکتوبر او (۲۰۰۹) [9] کال و فبروری په میاشت کی ترسره شو، پدی بهیر کی ۴،۷۲۰۹۰۶ تنه په ټول هیواد کی ثبت شول. دا د نوم لیکنی د نو ي کولو لست د هغو نوم لیکنو سره چې په تیرو ټاکنو کی

[6] ۳۰۹ د رایې ورکونې نور مراکز د ټاکنو پر ورځ ونه پرانیستل شول. په پای کې ۶۲۱۰ مرکزونه د رایه ورکوونکو پر وړاندې خلاص وو.

[7] د ټاکنو تر ورځې یو ورځ مخکې، د ټاکنو خپلواک کمیسیون ۱۲۰۴۶۲ خلک د رایه ورکونې په مرکزو کې د کار لپاره وګمارل، چې د دوی له ډلې ۷۷۱۲۱ یې نارینه او ۴۳۳۴۱ یې ښځینه وې.

[8]یو ګډ مدني او رایې ورکوونکي راجستر په نظر کې نیول شوی و خو د وخت د محدودیت او سیاسي پرېکړه چې مدني او رایه ورکوونکي راجستربهیر دې سره بېل شي، د ټاکنو خپلواک کمیسیون تصمیم ونیو چې یوازې د یوې پروسې د اوسمهالولو مسئولیت واخلي څو هغو وګړو ته ورسېږي چې تر اوسه کارت نه لري.

[9]د محلي ګرځنده ټولنو لخوا د غوښتنې په اساس د رایه ورکوونکي د راجسترېشن پروسه د جولای تر۲۰۰۹ پورې فعاله وه.

کارول شوی وو، چې په کی ۱۲.۵ میلیونه رای ورکونکی ثبت وو، مطابقت نکوی. د نوم لیکنی د نوی کولو په بهیر کی نوی کارتونه وویشل شول او پخوانی رای اچونی کارتونه د چلند وړ پاتی شول[10]. په پایله کی په هیواد کی ۱۷ میلیونه کارتونه موجود وو[11].

کله چی د رای ورکونی کارتونه د یو دقیق رای ورکونکو لست سره ګډ وکارول شي، د رای ورکونی کارتونه کولای شی د یو حفاظتی وسیلې په حیث د څو ځلو او یا عوضی رایو په ضد کار و رکړی. د رای ورکونکو کارتونو ویشل پرته له کوم دقیق نوم لیکنی دا سوال را پیدا کوی چی آیا درست شمیر کارتونه ویشل شوی دی که نه. د اروپا ټولنی د ټاکنو د څارنی ماموریت سازګاره رپوټونه د کسانو سره د څو کارتونو شتون او د کارتونو د خرڅلالو او پلورلو، په ځینی حالاتو په ډیر آزاد ډول، په هکله تر لاسه کړی. داسی ګزارشونه هم شته چی وایی نارینو سره د ښځینو کارتونو موجود وو چی په چال او حیله یی تر لاسه کړی وو. دا ټول رپوټونه د ډیرو کارتونو شتون نسبت اصلی رای ورکونکو ته په ډاګه کوی.

که څه هم د نوم لیکنی د نوی کولو بهیر د یو ښه نیت او د زیاتو هڅو وروسته په خطرناکه امنیتی حالاتو کی تطبیق شول، لیکن پایله یی چی د نوم لیکنی راجیستر دی، په پراخه توګه درست نه ګڼل کیږی. تر ټولو واضحه نښه د شک د ښځو د نوم لیکنی په ارقامو کی ده. که چیری د ښځو په وړاندی د هیواد په ډیرو برخو کی د ګرځیدو د آزادی محدودیتونه په پام کی ونیسو، نو دا تمه کیږی چی د ښځو د ونډه ریښتینی کچه باید د ٪۵۰ څخه کښته وي. په حقیقت کی په هغه ولایتونو کی د ښځو ګرځیدل ډیر محدود دی، د ښځو برخه په نوم لیکنه کی د ٪۶۰ څخه پورته وه[12]. په داسی حال کی چی ځینی ښځی د کاری کړنلاری سره سم ثبت شوی وی، دا روښانه ده چی نوروته عوضی نوم لیکنه شوی ده. د ډیرو ښځینه رای ورکونکو په صورت کی، دا امکان لری چه هغه شمیره ښځی چی ظاهراً نوم لیکنه یی کړی ده په حقیقت کی جعلي رای ورکونکی وي . (فزیکی شتون نلری)

### د نوماندانو نوملیکنه

د ټاکنو د خپلواک کمیسیون لخوا د نوماندانود وروستي خپورشوی لېست کی ۴۱ سیالان ولسمشری ټاکنو ته، او۸۲ د ولسمشر مرستیالان نوماندان او ۳۱۹۵ نوماندان د ولایتی شوراګانو ۴۲۰ کرسیو ته نومونه لیکلل شوی دی. د کمپاین د دورې په پای کې د ټاکنو خپلواک کمیسیون اعلام وکړ چی ولسمشری ټاکنو ۷ تنو نوماندانو په رسمي ډول له سیالی څخه ځانونه د سیالی نه ویستل. لکه څنګه چی ګوابښونه او بریدونه د ټاکنو د ورځی څخه د مخه زیات شول، یو شمېر ولایتي شوراګانو ته نوماندانو هم ځانونه ویستل.

د ټاکنو خپلواک کمیسیون د نوماندانو د نوماندی بهیر لومړی پړاو یی د هغ و کسانو نوم لیکنی ته محدود کړی وو چی د نوماندی ضروری پاڼی یی تسلیم کړ ې و ې، بې شمول د سوګند وینا او دا چی دوی قانوناً واجد د شرایط دی او د دی لپاره چی وړاندیو شوو مالوماتو صحت مخکی د نوماند د نوم لیکنی نه د نوماندانو په ابتدایی لست کی، وکتل شی هیڅ کوم میکانیزم موجود نه وو. په پایله کی، هر هغه قانونی نیمګړتیا چه د نوماندی لپاره ضروری وه، ب‍ه شمول د نوماندانو نږاو د غیر مسؤل ډلو سره ، کولای شوای یوازی د چالشونو په دوره کی را پورته شې، چی دی یو ډیر درووند بار د ټاکنو د شکایاتو په کمیسون کیښود.

د ټاکنو د شکایاتو کمیسیون ۳۰۲ ننګوني په هغه موده کی چی د نوماندانو د نوماندی لپاره ځانګړی شوی تر لاسه کړی[13]، چي له دې ډلې څخه ۵۰ د ولسمشری او ولسمشری مرستیالانو پوري او ۲۵۲ د ولایتي شوراګانو نوماندانو پوري اړه لرلې. وروسته له بررسیو څخه د ټاکنو د شکایاتو کمیسون ۵۷ نوماندان وویستل: ۳ ولسمشری، یو د ولسمشرۍ مرستیال، او ۵۴ د ولایتي شوراګانو نوموني. یو ه ویستنه د دوه ګوني تابعیت له امله و او ۵۶ د هغو نوماندانو وه چي له وسلوالو ډلو سره يي تړاو لره. چالشونه په دې وروستنۍ برخه کي د وسلې ټولولو او ملکي کولو کمیسیون لخوا هغه وخت وړاندې شول چي د غیر مسول وسلوالو ډلو او اشخاصو او د دوی ارتباط د

[10] د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د ۱۲ جولای ۲۰۰۹ مطبوعاتي وینا
[11] د مثال په ډول، په لوګر کي ۷۲ سلنه د رایه ورکوونکو څخه ښځي وې، په پکتیا کي ۶۴سلنه ښځي او په خوست کي ۶۵ سلنه ښځي.
[12] د مي په ۱۵مه د ټاکنو خپلواک کمیسیون یوه پالیسي پاڼه خپره کړه چي په کي دا ډول تصریح شوې و چې د انتخاب په اړه به دا کمیسیون پر ملکي کولو او بې وسلې کولو کمیسیون (DRC) باندې باور کوي. دا تصمیم بیا د وروسته تاسیس د ټاکنو د شکایتونو د کمیسیون لخوا نیمایي بدرګه شو همدارنګه د یوې اورږدې انتخاباتي پروسې پېچلتیا او مشخصیت يې ورسره ومانه.
[13] نوموني به له چېلنجونو سره د مي د ۱۶ او ۲۱ تاریخونو کې مخ شي.

نوماندانو سره، او د غير مسولو وسلوالو ډلو د انحلال پروګرام **(DIAG)** [14] او د ګډ دارلانشا[15] او تخنیکي مرستو سره تازه معلومات وړاندې شول.

د اروپايي ټولنې د ټاکنو د څارنې ماموریت د وسلو ټولولو او ملکي کولو د کمیسیون، هغه زړه ورې پرېکړې د ځينو خاصو نوماندانو د شدیدو فشارونو برسېره، ستايي.د پلټنې د بهیر ناپیلیتوب او اشتراک د يو سیاسي تعهد او مرستې د نه شتون په سبب زيانمن شو، کم تر کمه په څلورو ولایاتو کې دغه حالت د ځايي چارواکو او مشرانو له طرفه منځ ته راغلی دی. د عامه پوهاوي یو پراخ کمپاین د نه شتون او محدود شفافیت، او ورسره د عادي کسانو نوملیکنه د نوماندانو په حیث، په دې بهیر باندې د افغانانو ترمنځ د بې باورۍ فضا رامنځ ته کړه. نوماندانو دا حق درلود ترڅو د دوی تړاو د غير مسولو وسلوالو ډلو سره ادعا وکړي او يا ځان بې وسلې کړي ترڅو د دوی موقف بيا وارزول شي. حال دا چې د پرېکړو په مقابل کې د اپیل کولو لپاره د کم وخت له سببه د پلټنې اغېزمنتوب، د نوماندانو د بیوسلو کولو د انګیزه په ډول، سخت زيانمن کړو.

## د کمپاین چاپېريال

د ولسمشريزو ټاکنو کمپاین د هېواد په کچه يوه رښتيني مناظره د ټولنيز-اقتصادي ستونزو په اړه وځلوله، د ولمسشرۍ نوماندانو خلکو ته په خطاب کې يو ډول پيغامونه وړاندې کړل لکه ، د نا امنۍ د مخنيوي، د ملي پخلاينې له لارې د سوله او ثبات رامنځته کول، د بې کنټروله اداري فساد له منځه وړلو او د هېواد اقتصاد پرمختګ ژمنې.

ليکن د ولايتي شوراګانو نوماندانو د ګرځيدواو جرګو د نيولو د يو لړ جدي محدوديتونو سره مخ امخ شول، چې ډيری يې د ګواښونو، خطرونو او پر نوماندانو، د ټاکنو اداری کارکونکو او حتی رای ورکونکو باندی مستقيمو بريدونو له امله وو، چې په پايله کی دا د ډېرو د مرګ باعث وګرځيدل.

اما، کمپاينونه په يو داسي چاپېريال کې ترسره شول چې له روان نظامي عملياتو له کبله پر ګرځيدو او جرګو نيولو باندی سخت محدوديتونه وو، په ځانګړې توګه په سهيل کی، او د طالبانو له لورې زياتېدونکي بريدونه، چې هدف يې د ټاکنو مزاحمت او د ګډون مخنيوی و. سره له دې چې د ولسمشرۍ پر نوماندانو او کمپاين چلوونکو باندی ۱۹ ثبت شوی بريدونه شوی دی، ډېری کانديدان په دې وتوانېدل چې نږدې په ټولو ولاياتو کې کمپاين وکړي. د محدودو سرچينو او امنيتي ملاتړ سر بيره، د ولايتي شوراګانو کانديدان له ډېرو جدي امنيتي ستونزو سره مخ وو او په ځينو حالاتو کې د دوی کمپاين يوازې د ولايت او ولسوالي مرکزونو ته محدود کړی وو. د ولايتي شوراګانو ښځينه نوماندې له دې ګواښونو نه په ځانګړې توګه اغېزمنې شوې وې او د دوی يو شمېر هيڅ و نه توانيدل چې کمپاين وکړی.

د ډاروني، ګواښونو او نېغو بريدونو بېلګې پر نوماندانو، د ټاکنو ادارې کارکوونکو، او حتی رای ورکونکو باندی، د کمپاين په بهير کې رپوټ شوې وې. د ولايتي شوراګانو نوماندانو باندې ۲۳ بريدونه چې له دې جملې څخه ۳ وژني دي، رپوټ ورکړ شوی دی. د ۱۴ د ټاکنو کارکوونکو وژنه او د ۶ تښتنونو رپوټ ورکړ شوی دی. که څه هم اکثره رپوټ شوی جدي بريدونه او ګواښونه د دولت ضد اورپکو د ټاکنو د اخلال پورې تړاو لرلو[16] ، عام وګړي او همدارنګې ځينې د ولايتي شوراګانو نوماندان هم د ډارونو له پېښو او د ځايي با نفوذه مشرانو لخوا ځورېدلي.

سره له دې چې د جمهوري رياست يو فرمان په ډاګه توګه دولتي کارکوونکي له يوطرفي څخه منع کوي، يو شمېر دولتي چارواکو په ښکاره توګه د ولسمشر کرزي[17] ملاتړ کړی، په داسي حال کې چې د ډاکټر عبدالله [18] ملاتړ هم د ځينو دولتي چارواکو له لوري شوی. په دې توګه نور باوري رپوټونه وايي چې ولسمشر کرزي او د هغه مرستيالانو د دولتي سرچينو څخه ناوړه استفاده کړې، په شمول د

---

[14]د ولسمشر د ۵۰ نمبر فرمان چې په ۱۳۸۳/۴/۲۴ ( ۱۵ جولای د ۲۰۰۴ ) ، او ۲۳ نمبر فرمان چې به ۱۳۸۴/۳/۱۶ تاريخ، او 14.2 ماده صادر شوي باندې د عمل په اساس د سلاح، مهمات او چاودېدونکو موادو قانون، د ملکي کونې او خالي سلاح کونې پروسه.

[15]ګډ سکرتريت عبارت دی له افغان دفاع وزارته، داخله وزارت، ملي امنيت، ايساف، او يوناما استازو څخه.

[16]د کمپاين لومړيو وختونو کې، شپې زنګونه او اعلاميې وې، په ځانګړې توګه خوست، وردګ، لوګر، لغمان، کونړ، ننګرهار، پکتيکا او پکتيا دی.

[17]د ولسمشر کرزی په ځانګړې توګه د ننګرهار د والي لخوا يې ملاتړ وشو. د ټاکنو د خپلواک د کميسيون د کندهار ساحوي دفتر مسئول، همدا ډول د محلي ارګانونو د خپلواک رياست مشر، او د دې په شان نورو دولتي ارګانونو هم له کرزي څخه ملاتړ کړی.

[18]د بلخ والي عطا محمد نور او د پنجشېر والي حاجي بهلول لخوا د ډاکتر عبد الله ملاتړ وشو.

ملي اردو او پوليسو، د غير قانوني لارو يا خارجي منابعو څخه لاسته راغلې فنډ، خو د دې اصولو د عملي کولو لپاره کوم ميکانيزم هم نه و.

د مالي او لوژستيکي سرچينو ترمنځ څرګند ناتوافق و. د کمپاين د اموالو د اعلانولو مقررې د کمپاين پر مصارفو کوم حد وضع نه کړ، خو نوماندان يې مجبوره کړل چې د ټاکنو خپلواک کميسيون ته د خپلو کمپاينو لپاره مالي معلومات وړاندې کړي، خو د ارقامو د سم کتلو لپاره کوم ميکانيزم نه و. بيا هم د ولسمشرۍ د کانديدانو د کمپاين دارايي د ټاکنو د شکايتونو کميسيون ته د خپاره شوو اندازو په هکله د شکايتونو د ننګونو اجازه ورکړه.

## د رسنيو چاپېريال

په افغانستان کې د رسنيو لړليد د دولتي او شخصي بنسټونو څخه جوړ شوی او په تېرو اوو کلونو کې يې ښه وده کړې. اوسمهال، نږدې ۲۰ شخصي تلويزوني چينلونه او ۱۰۰ شخصي راډيويي چينلونه شته، همدارنګه ۷ خبري اژانسونه. راډيو په هېواد کې تر ټولو مهمه رسنۍ ده، او ورپسې ټي وي.

امنيتي حالاتو د ژورنالېستانو رپوټونه په شديده توګه اغېزمن کړي همدارنګه د دولتي چارواکو لخوا معلوماتو ته لاسرسی محدود کړی. کره رپوټونه وايي، چې ولاياتو کې په ځانګړې توګه، انتقادي ژورنالېستان له تهديد او فشار سره مخ کېږي، چې د وېرې او سانسور چاپېريال رامنځ ته کوي[19].

د ټاکنو د دورې په بهير کې، د ټاکنو د رسنيو کميسيون مسئوليت لري چې د رسنيو د پوښښ او له اصولو او مقررو [20] څخه د دوی سرغړونې وارزوي، او کميسيون پر رسنيو د شکايتونو پرېکړې خپرې کړې او د رسنيو د څارنې لاسته راوړنې يې په اوونيزه توګه د مطبوعاتي کانفرانس په ترڅ کې وړاندې کړې. په داسې حال کې چې د خواک د منظورلو نشتوالی، د دې موقت مسئوليت او له اطلاعاتو او کلتور وزارت سره د دې ترينګلي روابطو د دې کميسيون د اغېزمن او واکمن ارګان په توګه پر کار کولو اغېزه وکړه.

د اروپايي ټولنې د ټاکنو د څارنې د ماموريت لخوا څارل شوې رسنۍ څلورو مهمو نوماندانو [21] ته په پراخ پوښښ ومونډل شوې ، په داسې حال کې چې نور نوماندانو ته يې د څرګندونې لږ موقع ورکړې. دولتي رسنۍ نوماند حامد کرزي ته ترټولو زيات وخت ورکړی: د افغانستان راډيو تلويزون (RTA) حامد کرزي ته د خپلو سياسي خبرونو له پوښښ څخه ۶۸ سلنه ځانګړې کړې و، په داسې حال کې چې دريو نورو ډاکټر عبدالله عبدالله، ډاکټر اشرف غني احمدزي او ښاغلي ميرويس ياسيني هر يو ته په ترتيب سره ۱۱ سلنه، ۷ سلنه، او ۲ سلنه سياسي پوښښ ورکړی. RTA راډيو د خپلو سياسي خبرونو ۷۲ سلنه حامد کرزي ته ځانګړې کړې وه، يوازې ۱۱ سلنه يې ډاکټر عبدالله او ۳ سلنه هر يو ډاکټر اشرف غني احمدزي او ښاغلي ميرويس ياسيني ته. ولسمشر ته ځانګړی شوی پوښښ اصلاً بې پرې يا د ونډې له پلوه مثبت و.

د رسنۍ تر اوڅه ناخپاره قانون له مخې، دولتي راډيو او د افغانستان ټي وي (RTA) به د يو عامه خپروونکي خدماتو په توګه معرفي کېږي، چې د متوازنو رپوټونو لپاره به يو ځانګړی مسئوليت پرمخ وړي. په دې هکله، د اروپايي ټولنې د ټاکنو د څارنې ماموريت د ستري محکمې د هغه قانون د مسودې د لغوه کولو د پرېکړې په اړه اندېښمن دی چې څرګندوي چې د افغانستان راډيو تلويزون (RTA) رئيس دې د پارلېمان لخوا وټاکل شي. [22]

---

[19] د Reporters San Frontiers، Afghanistan media watch او Amnesty international د دولتي چارواکو نوم اخلي، د امنيت ميکانيزم او ياغيان (طالبان او نور) د اصلي ډاروونکو په توګه نوموي.

[20] د ټاکنو د قانون د تهيه کولو په اساس، د ټاکنو خپلواک کميسيون د رسنيو اصول منلي او د ټاکنو د رسنيو کميسيون د دولتي راډيويي رسنۍ ته د مقرراتو ټولګه جوړه کړې خو د کانديدانو لخوا په لاسرسي کې عدالت، توازن او مساوات په نظر کې ونيول شي.

[21] حامد کرزی، عبدالله عبدالله، اشرف غني احمدزی، ميرويس ياسيني

[22] د رسنيو د قانون مسوده دوه ځلې د پارلېمان څخه پاس شوې، چې بايد د ۲۰۰۸ په اګست کې چاپ شوی وي. خو څرنګه چې دولت کې د ۱۳ او ۴۱ مادو باندې اختلاف رامنځ ته شو نو د دې په اساس ډېره ځنډېده. چې د RTA د مشر د ټاکلو موضوع يې بحث دی.

په يو مثبت پرمختګ کې، خصوصي رسنۍ د ولسمشرۍ له کانديدانو سره سياسي مناظرې او ګردي ميزونه خپروي، چې ځينې يې د ټاکنو د رسنيو کميسيون لخوا تنظيمېدې. دا ډول ګردي ميزونه خلکو ته د ولسمشريزو ټاکنو ټيټو نوماندانو ته د خپلو کړنلارو او دريزو د وړاندې کولو موقع ورکوي.

د لومړنيو ساعتونو په بهير کې، رايه ورکوونکي معلوماتو او عامه پوهاوي ته د څارل شوو رسنيو لخوا د مهال او څرنګوالي له پلوه کم پوښښ ورکړ شوی و. دولتي ټي وي په دې اړه په ځانګړې توګه ضعيف و، په داسې حال کې چې کيليد شخصي راډيو او د افغانستان دولتي راډيوګانو په استثنايي توګه ډېره پاملرنه لرله.

چاپي رسنيو کمپاين د ټاکنو پر بهير د يو لړ نظرياتو وړاندې کولو له پلوه تر پوښښ لاندې راووړ. دولتي ورځپاڼو يوازې څو مهمو نوماندانو او د دوی فعاليتونو ته تشه ځانګړې کړې وه، په داسې حال کې چې ډېرو نوماندانو ته د مناسب پوښښ په برابرولو کې پاتې راغلل. څارنې وښوده چې اوسني ولسمشر په څرګند ډول توپير او تبعيض کړی، البته د تشې او ونډې دواړو پوښښونو له پلوه. هېواد ورځپاڼې خپله ۷۶ سلنه تشه حامد کرزي ته او انيس ورځپاڼې ورته ۷۸ سلنه ځانګړې کړې و.

ښځو ته په خبري رپوټونو کې نږدې هېڅ پوښښ نه و ورکړل شوی او په ټاکنيز کمپاين کې د ښځو د حقوقو په اړه موضوعات په حقيقت کې هېڅ نه وو ښودل شوي.

د افغان ملي امنيت شورا په ۱۹ اګست د رايې ورکونې پر ورځ هر ډول زور زياتي پېښې تحريم کړې. دولت دا مقررې په تفصيلي توګه تشرېح کړې ترڅو د ملي ګټو د خوندي کولو لپاره د رايې ورکونې پر ورځ ملي امنيت ډاډه کړي. ملي او نړيوالو رسنيو پر دې ورځ دا ډول عمل د بيان د ازادۍ، او دا چې معلوماتو ته لاسرسی د افغانانو مدني حق دی، غندلی. دا په داسې حال کې ده چې ډېرو ژورنالېستانو رپوټ ورکولو ته ادامه ورکړې او د ټاکنو پر ورځ ۱۵ ملي او نړيوال ژورنالېستان په کابل کې د هغو پېښو څخه د رپوټونو په ورکولو وګواښل او توقيف شول، چې په همدې سهار واقع شوي وو.

## شکايتونه

د ټاکنو د شکايتونو کميسيون د ټاکنو د تقصيراتو د شکايتونو د قضاوت لپاره يو وړ ارګان دی، د ټاکنو د نتيجو د شکايتونو په ګډون. دا شکايتونه د هر هغه کس يا ارګان لخوا کېدای شي چې د ټاکنو بهير سره يوه حقوقي علاقه لري، د رايه ورکوونکو او څارونکو په ګډون. د ټاکنو د شکايتونو کميسيون د ټاکنو د پايلو په اړه شکايتونه تشخيصولای او د نوښت په توګه په دې اړه څېړنې پيلولای شي.[23]

۲۰۰۵ کال د ټاکنو په تعقيبي سپارښتنو سربېره، د ټاکنو د شکايتونو کميسيون د بهير په ډېر وروستي پړاو [24] کې جوړ شو، په عمده توګه د اداري ځنډونو له کبله. دې وروستوالي خپل ۳۴ ولايتي فرعي څانګې د نومونې دورې په بهير او د کمپاين د دورې په يوې برخې کې، د عملياتو مخنيوی وکړ او د ټاکنو د ټولې دورې په موده کې يې د شکاياتو په قضاوت کولو کې وځنډوه. په ځينو ځايونو کې د عامه پوهاوي فعاليتونه د ټاکنو د شکايتونو د کميسيون د مسوليت په توګه محدودې وې، چې نتيجتاً کميسيون ونه توانېد چې پر کميسيون د خلکو بې باورې تلافي کړي. د هېواد په ځينو ځايونو کې شکايتونه د ليکليو شواهدو په وړاندې کولو کې د خلکو ميلان کم وو، چې لامل يې له بريده وېره وه، چې له دې جملې د هېواد په ځينو برخو کې موږ د يو شمېر کمو ثبت شويو شکايتونو شاهد يو، چې په ښکاره توګه به د ځينو لوړو سرغړونو باعث کېدې لکه ډارونه او تهديد. په ځينو دفترونو کې فزيکي موقعيت او اټموسفير د راز په ساتلو کې پابند نه وو. دې فکټورونو، او دې سر مل د ښځينه کارکوونکو نشتوالي په ځانګړې توګه ښځو ته د خپلو شکاياتو له بهيره ګټه اخيستل نور هم ستونزمن کړل[25]

سربېره پر دې ځنډونو، د ټاکنو د شکايتونو کميسيون په دې وتوانېد چې په څرګند ډول خپله اداره او عملياتي کارچوکاټ پياوړی کړي څو د تېرو ټاکنو په پرتله شکايتونه په ښه توګه قضاوت کړي. د دوی د تګلارو د اصولو برعلاوه، د ټاکنو د شکايتونو کميسيون درست بشپړوونکي لارښودونه جوړ کړل. دې نتيجوي کارچوکاټ د ټاکنو د کمپاين ولايتي کميسيونو په پرمختګ کې زياتوالی راووست سره

[23] د ۵۲ مادې د ټاکنو قانون د ټاکنو د شکايتونو کميسيون ته دا وظيفه سپاري چې د ټاکنو سرغړونې وڅاري.
[24] د ټاکنو د شکايتونو کميسيون د ۲۰۰۹ کال د اپرېل په ۲۶ پيل شو.
[25] يوازې۲۱ ښځو د کمپاين په دوره کې شکايتونه کړي.

له دوامداره ظرفيت جوړولو، په داسې حال کې چې له قانوني زېرمو سره د توافق ډاډ لپاره د مرکزي کتنې تضمين کوي. د ټاکنو د شکايتونو کميسيون د رايه ورکونې او حسابونې پر مهال د بې نظميو څېړنو لپاره د روزنې ښې پلان شوې ناستې هم کړې، چې ټول پر يو جامع تګلارې ولاړې دي. دې پرمختګونو د رايه ورکونې او حسابونې بهيرونو په دوران کې په پراخه پيمانه د ټاکنو د شکايتونو کميسيون تيارى د شوو تهديدونو پر وړاندې پياوړى کړ.

سره له دې چې دا سخته وه چې ټول شکايتونه دې پر خپل وخت اداره شي، خو بيا هم د ټاکنو د شکايتونو کميسيون په هغو پرېکړو کې چې صادرې کړې يې دې ناپيليتوب، او د مقتضا د بهير درنښت ثابت کړ او ټول خپرې شوې پرېکړې په سمه توګه ريکارډ شوې.

د ټاکنې له ورځې مخکې، د ټاکنو د شکايتونو کميسيون د ۴۶۷ تسليم شوو شکايتونو څخه په ۱۸۱ شکايتونو خپله پرېکړه صادره کړه، چې له دې ډلې څخه د کمپاين دعواوو، د دولتي سرچينو څخه د کمپاين لپاره کار اخيستل، يا په ټاکنيز کمپاين کې د يو دولتي چارواکي مداخلې، پورې اړه لرلې. د ولسمشر او د دوى د مرستيال نوماندانو يا د دوى د کمپاين ټيمونو په هکله ۱۱۸ شکايتونو راغلي. د ټاکنو د شکايتونو کميسيون ۱۵۱ شکايتونه هغه مهال باطل کړل چې قانوني توجيه يې نه لرله يا د شکايتونو لپاره کوم شاهد نه و [26]. د ټاکنو د شکايتونو کميسيون په يو ځاى کې د ټاکنو د خپلواک کميسيون د چارواکو په لرې کولو امر وکړ. همدارنګه د شکايتونو کميسيون د ولايتي شورا دوه کانديدان د دولتي پوستو د ساتلو څخه ګوښه کړل، د شکايتونو کميسيون کمپاين پورې اړونده تهديدونه په رسمي توګه ومنل،د يوې ښځينه کانديدې پر شخصيت د تېري په ګډون، د ولسمشرۍ نوماندانو لخو د کمپاين لپاره د خپلو بوديجو ښودلو مسئوليت نه ادا کول، د موجوده ولسمشر لپاره د دولتي چارواکو کمپايني فعاليتونه او د کمپاين بهير لپاره د دولتي سرچينو کارول. په دې وروستي کټګورۍ کې تر ټولو څرګندې پرېکړې د ډاکتر عبدالله عبدالله د ټيم او د ولسمشر مرستيال خليلي پر وړاندې وې. د ټاکنو د شکايتونو کميسيون ځينې وخت په خپلو نوښتونو او پرمختګونو څېړنې کړې، خو دا هغه مهال چې د جدي ممکنه تهديدونو امکان موجود و.

## د ښځو ونډه

د يو افغان په حيث د ښځو مدني او سياسي حقوق د هېواد په اساسي قانون کې درانه شمېرل شوي خو په عمل کې د نوماند، رايه ورکوونکې او د ټاکنو د اداره کوونکې په صفت ګډون، ډېر زيات محدود و. په عام ژوندون کې د کلتور او عنعنې په اساس د ښځې په وړاندې پراخ مخالفت، د دې پر وړاندې ډېر خندونه رامنځ ته کړي: په کيليدي بنسټونو کې د دوى ضعيف استازيتوب او پوهنې او سرچينو ته د دوى ډېر محدود لاسرسي د دوى د ګډون کولو د وړتياوو مخنيوى کړى او ډېرو هغو ښځو چې په ټاکنو کې يې ګډون کړى د ځان لپاره د کمپاين هدف ګرځول شوي. ځانې بې امني چې عامه خلک يې اغېزمن کړي، او په ځانګړې توګه يې ښځې په نامناسبه توګه اغېزمنې کړي او په خلکو کې يې دا عقيده پياوړې کړې وه چې ښځو ته له کوره د باندې کار کاول نامناسب دي.

د ۴۱ ولسمشريزو ټاکنو څخه هم ۲ ښځې وې او ۳۳۳ ښځو ځانونه ولايتي شوراګانو ته کانديد کړي وو چې د ولايتي شوراګانو ۱۰ سلنه جوړوي. دا په ملي اوسط کې يو کوچنى زياتوالى و [27]. خو د هېواد د ولاياتو په نيمايي محوطه کې، د ښځو نوماندانو برخه زياته شوې۲۷ . د برخې سيستم تاکيد کوي چې په ولايتي شوراګانو کې دې تر کمه ۲۵ سلنه ښځې وې، چې دا په هغو وېشنو کې مهم سيستم تشکيلوي چې هلته د نارينه او ښځينه ترمنځ قيافوي يا فزيکي شباهت ضرور نه وي.

په خوزښت، تړاو او بيان برخو کې د ښځو ازادي تر سړيو زياتي محدودې شوې وې، او د دوى سياسي برخه اخيستنه د هېواد په بېلابېلو برخو کې په خاصه توګه تر هدف لاندې وه [28]. د غزني او کندهار په شان ولايتونو کې د ښځو له لورې داسې رپوټونه هم رارسېدلي چې دوى د ځان د امنيت له وېرې هېڅ کمپاين ونه شو کړلاى، حال دا چې د هېواد په نورو برخو کې داسې ښځې هم شته چې يوازې له خپل کور سره نږدې کمپاين باندې توانېدلې. د ښځو امنيت ته د ځواب ويلو لپاره، د کورنيو چارو وزارت يو پروګرام پيل کړ چې په ترڅ کې دې د ولايتي شورا نوماندې ښځې سره يو ساتونکى وګمارل شي خو د دې پروګرام تطبيق ډېر محدود و او يوازې لږو کانديدو مېرمنو ترې ګټه پورته کړه.

[26] د شکايت کولو شرط دا دی چې له شکايت سره بايد شخصي تفصيلي جملې مل وي او شاهد بايد ولري چې دا شرايط اکثراً د شکايت کوونکو لخوا نه شي برابرېداى او دا د ټاکنو د کارچوکاټ په هکله د کانديدانو او د انتخابي حوزې په ضعيفي پوهې دلالت کوي.
[27] د ۲۰۰۴ کال د ولسمشرۍ په ټاکنو کې يوازې يوه ښځه وه، او بيا د ۲۰۰۵ کال د ولايتي شوراګانو په ټاکنو کې ۲۴۲ ښځې وې چې ۸ سلنه د سړيو تشکيلوي.
[28] د لغمان، جوزجان، سرپل او هرات ولايتونو څخه د ښځو داسې راپورونه راغلي چې دوى باندې فشار راوړل شوى و چې له کانديداتورۍ لاس واخلي او د دوى پر خلاف کمپاين ونه کړي، چې دا فشار د ټولنو مشرانو او ديني مشرانو له خوا و.

د شاليد ارزونې دا ښيي چې په څرګند ډول له ۵۰ سلنې[29] د ښځو د ګډون کمه حقيقي درجه په دې تاکيد کوي چې زيات خنډونه په اغېزمنه توګه د افغان ښځو ډېره برخه محدودوي. د رايه ورکونې په مرکزونو او د امنيت لټونې لپاره د کافي ښځو [30] په ګمارلو کې ستونزو دا نتيجه شوه چې په رايه ورکونې کې دې د ډېرو ښځو مخه ونيسي، لکه څنګه چې د امنيتي حالاتو په سبب د رايه ورکونې مرکزونه له يوځايه بل ځای ته يوړل شول. کلتوري او امنيتي وجوهات د وکيل سري لخوا د ښځې رايه ورکولو ناقانونه عمل د له منځه وړلو پر وړاندې خنډ دي. پر وکالت رايه ورکونه ښځه ډېره محدودوي، په همدې توګه د ښځې د رايه ورکونې حق د له منځه وړلو د درغلۍ اعمالو ته موقع برابروي.

د شيعه وو د شخصي احوالو قانون لږ موده وړاندې، رايه ورکونې او شکايتونو ته لا موقع برابروي، په دې توګه چې په افغانستان کې د ښځې حقوق د سياسي اهدافو په مقابل کې تبادله کېږي. د دې قانون د بياکتلو سربېره، نوی قانون داسې له تبعيضه ډک شرايط لري چې د اساسي قانون د ښځې د مساوي حقوقو او د ژوند په بنسټيزو حقوقو کې د ښځې د حقوقو درناوی او د ټولو ملکي وګړو ازادۍ د تضمين سره په ښکاره ټکر کې دی.

## مدني ټولنه

افغان مدني ټولنې په افغانستان کې د ډيموکراتيک بهير په رښت کې مرسته کړې. د ټاکنو د خپلواک کميسيون پر اساس د مدني ټولنې د ارګانونو او نوماند استازو نږدې (۲۱۲۰۰۰)[31]، کسانو ته باورليکونه ورکړل شول چې ټاکنې وڅارې. افغانستان لپاره د ازاد او رڼو ټاکنو بنسټ (فيفا) د رايه ورکوونکي د ثبتولو په دوران او د کمپاين په دوره کې يې په ولايتي سطح څارونکي وګمارل او ټاکنو د بهير لپاره يې منظمې ويناوې خپرې کړې. فيفا د ټاکنو پر ورځ له ۷۰۰۰ زيات څارونکي په ۳۴ ولاياتو کې د ۳۶۴ ولسواليو څخه ۲۴۹ ولسواليو کې توظيف کړل. سره له دې چې د فيفا ګمارنه او څارنه د امنيتي ستونزو له کبله ډېره محدوده شوه، د دوی څارونکو د ټاکنو له پروسې سره يو ارزښتناکه همکاري وکړه.

له ملګرو ملتونو سره په همکارۍ، د افغان د بشر د حقوقو خپلواک کميسيون يوه پروژه رهبري کړه چې د ټاکنو په بهير کې مدني او سياسي حقوقو څخه ګټه اخيستنه وڅاري او د ډېرو شواهدو پر اساس رپوټونه خپاره کړي. د افغان د بشر د حقوقو خپلواک کميسيون د مدني ټولنې د ارګانونو څخه يو هغه ارګان دی چې د بشري حقوقو په اړه يې په خلکو کې عامه پوهاوي د سيمينارونو، ورکشاپونو او رسنيو له لارې زيات کړی. تر ټولو ډېر ګټور اوږدمهال پروګرامو څخه يې د هغو نارينه او ښځينه وو هدف نيول دي چې لږه پوه لري، چې دوی ته د حقوقو په اړه معلومات د شرعي او نړيوالو قوانينو په اساس ورکول کېږي.

د رايه ورکوونکي د معلوماتو کمپاينونو هدف د ټولنې ټول سکټرونه دي. خو د هېواد په ځينو برخو کې د خراب امنيتي حالات، خالص نارسی او په ځينو حالاتو کې د بېطرفه معلوماتو لپاره ناکافي ښځې، هغه ټول عوامل دي چې د هغو وګړو کچه راکمه کړي چې بايد وپوهول شي.

## رايه ورکونه او حسابونه

د رايه ورکونې په هغو مرکزونو کې چې د اروپايي ټولنې د څارنې د ماموريت لخوا څارل شوي وو، په يوه چپ او سوله ييزه فضا کې پرانيستل شول، په ټوليزه توګه د اروپايي ټولنې د دې ماموريت څارونکو دا بهير د قناعت وړ وارزوه، پرته د تهديد لږو پېښو چې په درې ورځ وشوې.

---

[29] د رايه ورکوونکي راجستر وګورئ

[30] د لغمان، جوزجان، سرپل او هرات ولايتونو څخه د ښځو داسې راپورونه راغلي چې دوی باندې فشار راوړل شوی و چې له کانديداتورۍ لاس واخلي او د دوی پر خلاف کمپاين ونه کړي، چې دا فشار د ټولنو مشرانو او ديني مشرانو له خوا و.

[31] ۱۶۹۵۶۷ کانديدانو استازي د ولايتي شوراګانو لپاره، ۹۲۸۹۷ استازي د ولسمشرۍ ټاکنو لپاره، ۶۹۹۸ د سياسي ډلو استازي، ۱۲۵۰ نړيوال څارونکي، ۹۲۲۸ محلي څارونکي، ۱۲۴۷ نړيوال او ملي ژورنالېستان، او ۲۰۳ خاص مېلمانه پېژندل شوي. رسمي منل شوي شمېر عبارت دی له: ۲۸۱۳۹۰

رایه ورکونه د رایه ورکوني د مراکزو د کارکوونکو لخوا ښه اداره کېده، چې د اروپايي ټولني د څارني د ماموريت د ډېرو له خوا وارزول شوه، چې په دې ورځ ځايي څارونکي، همدارنګه د ولمسشرۍ کانديدانو ډېرې استازي موجوديت وو. پر خپل مهال د ټاکنو د وسايلو وېشلو نتيجه دا وه چې د ټاکنو پر ورځ هېڅ کمی ونه ليدل شو. رايه اچوني بيا د مهالوېش سره سمې ودرول شوې. په داسې حال کې چې د ټاکنو د خپلواک کميسيون په توافق د رايه اچوني ساعتونه لږ وغزول شول، او دا احوال ساحو ته هغه وخت ورسېدل چې د رايه پاڼو بکسونه په بشپړ ډول سيل شوي وو، چې دا د رايه اچوني د بهير په هکله د پام وړ شک راپيداکوي.

د ټاکنو خپلواک کميسيون دا پرېکړه وکړه چې حسابونه دې د رايي ورکوني په مرکزو کې ترسره شي، د تېرو کلو په خلاف چې سيمه ييزو او ولايتي مرکزونو کې حساب شوې وو. د اروپايي ټولني د ماموريت لخوا په زياترو څارل شويو پېښنو کې، حسابونه په عمومي توګه په ناپېلي او رڼه توګه ترسره شوه، البته د کانديدانو د استازو او څارونو په حضور کې او د قناعت وړ وارزول شوه.

د نتايجو غوره او تدقيق تر کار لاندې دی، او د اروپايي ټولنې د څارني ماموريت به په هېواد کې د نتايجو تر شمارلو، د شکايتونو او رسمي نتايجو پاتې وي.

---

**د لا زياتو معلوماتو لپاره:**

ډامېترا ايانو، د سرڅارونکي مرستياله، ټيلفون: 221353 706 93 +

سندرا کاډوري، د مطبوعاتو مسئوله، ټيليفون: 221363 93706 +

*دا لومړنۍ وينا په انګليسي، پښتو او دري ژبو شته، خو يوازې انګليسي نسخه رسمي ده.*
د اروپايي ټولنې د ټاکنو د څارنې ماموريت

ګورتځی: www.eueom-afghanistan.org